عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶/۰۹/۱۹

# فرهنګي سپړنه؛ انلاین زدکړې، اړتیا او نیمګړتیا

په روستیو کلونو کې چې افغان نجونې او ځوانان د بېلابېلو ستونزو او خنډونو له کبله له حضوري زدکړو محروم شوي، دهغوی لپاره د یوې جدي اړتیا له مخې انلاین زدکړې د بدیل په توګه تربحث لاندې راغلي دي. په دې کې هېڅ شک نهشته چې له زدکړو څخه دبشپړ محرومیت په نسبت دغه امکان زرین فرصت ګڼل کېږي، خو د کیفیت، اعتبار او تخنیکي اسانتیاوو له نظره یې په اړه اندېښنې شته. انلاین زدکړې څه دي او څنګه یې کیفیت، اعتبار او ورته لاسرسی ښه کېدلای شي؟
له لرې واټن څخه د ښوونې و روزنې تاریخچه یې راته وایي چې داسې زدکړې شاوخوا یوه پېړۍ مخینه لري. هغه مهال چې د نوې ترانسپورتي چټکتیا له برکته پوستي خدمات اسانه و چټک شول، نو یوشمېر پوهنتونونو او کالجونو خپل لکچرنوټونه او ان د ازموینو پوښتنپاڼې د پوستې له لارې زدهکوونکیو ته استولې او په ځینو مواردو کې یې د ازموینو ځوابونه هم ترلاسه کول. د شلمې پېړۍ د دویمې نیمایي په پیل کې چې تلویزیوني امکانات اسانه شول، ځینې استادانو له یوه هېواده په بل هېواد کې زدهکوونکیو ته تلویزیوني یا غږیز لکچرونه ورکول. خو په نولس سوه نوییمې لسیزې کې انټرنټ نړۍ سره وګنډله او د نړیوالتیا په بهیر کې د نړیوال کلي اصطلاح د اړیکتیایي اسانتیاوو پر بنسټ رامنځ ته شوه، چې د یویشتمې پېړۍ په پیل کې د نویو انلاین پلاتفورمونو له رامنځته کېدو سره له لرې د زدکړې مفهوم ورو ورو د انلاین زدکړو پراو ته ننوت. مجازي ټولګي جوړ شول او د تکنالوژۍ ماهرانو د تدریس لپاره ځانګړي پلاتفورمونه طرح کړل.
پوهنتونونو او ښوونیزو موسسو په احتیاط او د کیفیت ساتنې له قید سره سم انلاین زدکړو ته لار پرانیستله. په ۲۰۲۰ کال کې کووید ۱۹ یا کرونا ناروغۍ نړۍ پرسرواخیسته او کورناستی یې پر میلیونونو انسانانو لازمي کړ. د دغې ناروغۍ د چټکې خپرېدا پرمهال یوشمېر پوهنتونونو، د زدکړو موسسو او ان په یوشمېر هېوادونو کې ښوونځیو د انلاین زدکړو بهیر راپیل کړ، چې روسته بیا تر یوه برېده دغه دود پاتې شو.
د افغانستان ستونزه بیا نوره هم پراخه وه، که څه هم کووید ۱۹ کمزورۍ شو او نورو هېوادونو بېرته حضوري ټولګیو ته مخه کړه، خو په افغانستان کې د زدکړو بهیر بېرته هغسې راژوندی نهشو، ګڼ استادان بهر ووتل او نجونې په کور کېنول شوې، کورنیو د خپلو بچیانو له بیخي محرومیت څخه غوره وګڼله چې په هرډول وي باید بچي یې زدکړو ته دوام ورکړي، زرګونه کورنۍ یوازې د بچو په زدکړو پسې له وطنه ووتې خو ټولو ته دا امکان نهو، بیا هم یوازینی بدیل انلاین زدکړې وې. خو څنګه؟ څومره؟ په کومو تخنیکي امکاناتو؟ کوم اکاډمیک اعتبار؟ او کوم علمي کیفیت؟ دا پوښتنې جدي وې او لاهم جدي دي.
د دې برخې د کارپوهانو په نظر، داسې انلاین زدکړې یوازې د افغانستان زدهکوونکیو ته نه، بلکې لا هم په ټوله نړۍ کې یوشمېر پوهنتونونو او د زدکړو نورو موسساتو کې دود دي، خو هغه څه چې په افغانستان کې توپیر لري، هغه مجبوریت دی، چې نجونې او ان نارینه محصلان یې لري. استادان له هېواده وتلي دي. د لوړو او منځنیو زدکړو نصاب کې ناعلمي لاسوهنې شوې او لازم تخنیکي امکانات نهشته. ګڼو افغان پېغلو او ځوانانو ته د انټرنېټ هغسې اسانتیا نهشته چې د دوی زدکړې پرې منظمې وړاندې ولاړې شي، ځکه خو په دې برخه کې ښایي د افغان زدهکوونکیو لپاره باید د بحران او غیرعادي شرایطو په نظر کې نیولو سره ځینې ځانګړي میتودونه په نظر کې ونیول شي. د زدکړو لپاره علمي اعتبار، د بریا د اسنادو رسمیت او د تدریسي ژبو اړتیاوې باید په کلکه په نظر کې وي. نجونو ته ښایي لومړیتوب ورکړل شي او په دې اړه په نړیوال کچ هغه بنسټونه او هېوادونه چې مرسته کولای شي، په تېره بیا یونیسف، یونیسکو او نور نړیوال سازمانونه ښایي راوننګول شي، چې د بشریت د یوې محرومې برخې لپاره مرسته او د ځانګړیو اسانتیاوو په برابرولو کې خپل مسئولیت ترسره کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ